هاري واشنګټن ۲۶/۱۰/۲۰۰۸

# د میوند قتل عام

**د ښکلو لويه خانه! د همه پښتون سرداره**
**اې غمګيره د غمجنو، د پرېوتو مددګاره!**

**ها حجره چي ته يې خان وې، ها کاروان چي ته يې امير وې**
**ها حجره په ورانېدو ده، ها کاروان دی بې مهاره**

**ستا په اوښکو زرغون شوی، ستا په وينو پايدلی**
**هغه باغ لوغړن پروت دی، بې بلبله بې بهاره**

**بيا د ننګ توره تېره کړه، بيا ننګياله دا دېره کړه**
**شه رضا مرور خانه، شه پخولا دلګير سالاره "غني"**

د کندهار د ميوند په ولسوالۍ کې، طالب قاتلانو دېرش تنه افغان زلميان په رڼا ورځ تر تيغ وايستل. خبرونه وايي د اکتوبر پر ۱۹ د طالبانو يوې جنګي او خوني ډلي د کندهار-هرات پر لويه لاره باندي دېرش کسه بې ګناه ځوانان له دريو ۳۰۳ ټرانسپورټي بسونو څخه را کښته کړل. بيا يې همدا تنکي، خوار، او اجل نيولي مسافرځوانان سمدستي حلال کړل. عيني شاهدان وايي د ځو تنو جسدونه مثله سوي وه. هغوی وروسته له ډېرو وهلو او شکنجې څخه په کاملي او دقيقي بې رحمۍ قتل سوي وه. د لغمان ولايت د اوسېدونکو په وينا، ټول ځوانيمرګ ځوانان ايران ته د مزدورۍ او خوارۍ په نيت له خپلو عزيزانو، کورونو، او کليو څخه د يوه نامعلوم او ډارونکي برخليک په لور راوتلي وه. د طالبانو وياند قاري يوسف احمدي د همدې قتل او ځرګند بربريت مسوليت په خپله غاړه واخيست. هغه زياته کړه طالبانو هغوی د دولتي عسکرو په تور وژلي دي. هغه وويل: طالبانو ددغو برمته سويو ځوانانو کورونو ته تيلفونونه وکړل او د هغوی د کورونيو غږو ته يې وويل چي عزيزان يې نيول سوي دي او ډېر ژر به ذبح سي. طالب ياغيان لکه د چنګېز خان او مغل لښکري بني ادمان او اسيران حلالوي. سرونه يې غوڅوي او کله منارونه جوړوي. پښتني سيمي بدناموي. د ميوند تاريخ او شهيدانو ته سپکاوی کوي. د ترور، قصابۍ ، او وچ ظلم ژوندي مثالونه رېږروي. په بين المللي سطح کي، افغانان او د هغوی تاريخ او کلتور بد ناموي. په عين زمان کي، افغانان سرټمبه، خوني، او ټروريسټ معرفي کوي. طالبان غواړي چي افغانان د جهل، تورتم، او افراطيت توري کندي ته ورکش کړي. هغوی د زمان، خوځښت، او تمدن درول او را ايسارول غواړي. هغوی د ولس تباه کول غواړي. هغوی لکه شوپرکان له نور او علم څخه ډار او کرکه لري.

د طالبانو ددغه ښکاره وحشت پر خلاف د لغمان خلکو مظاهره او اعتراض وکړ. هغوی له بين المللي ټولني او افغاني حکومت څخه جدي اقدام وغوښت. د لغمان اعتراض کونکو د "مړه دي وي طالبان" او مړه دي وي قاتلان" شعارونه ورکول، او د تورو بيرغونو په وړلو سره يې خپل خپګان او غم ځرګندوی. هغوی غواړي چي د دغه نه بخښونکي قتل عام مسولين د عدالت منګولو ته وسپارل سي. د روان بربنډ بغاوت او بدعت مخه دي ونيول سي. او جنګي طالبان او القاعده دي سټ کړی سي.

د ليکوال د خپلو سترګو حال کال ۲۰۰۷ د مي مياشت:

له کندهار څخه تر ګرشګ پوري لاره ډېر خرابه ده. پخوانی ډامبر ګرده ټوټه ټوټه او يا بيخي ورک سوی دی. سيلاوونو، د حکومتونو پر له پسي غفلت او لټی، او دايمي ناکراريو د سړک پراخي برخي په وچو ماندو، کندوکپرو، او عذاب باندي بدل کړي دي. سرعت خورا کم وي. دوړي او خاوري د هر مسافر پر مخ په پېخر پرتي وي. هوا تل ګرمه او دوړخي وي. د لمر وړانګي هرڅه سوځوي. هر پلو سيراب ښکاري. حتی شاوخوا غرونه تک تور او لمر وهلي ښکاري. کاني او وچ بوټي جل وهلي برېښي. خو اسمان صاف او شين وي. وخت نا وخت، دلته او هلته، يو او نيم

زرغون بتی غیبي راټوکېدلی وي، او په يوازي سر د يو جهان محيطي خطرونو او ناخوالو سره ډغري وهي. د سرويس قهرجن او سيګريټي استاد، او د هغه پوچ خولي او جنجالي کلېنر ، او په خولو او خاورو کي پټ مسافرين وارخطا او چوپ وي. کلېنر لکه ښکاري سپی د دروازې په خوله کي ولاړ او په غټو او ډارېدلو سترګو لاري او دښتي څاري. اکثره مسافران هغه افغاني مهاجرين دي چي له ايران څخه په زوره راشړل سوي دي. اکثره د شمالي ولايتونو او مرکزي ولايتونو بېکاره او روزګاره هغه ځوانان دي چي په تکنده ځوانی کي د خپل کور او کلي پرېښېدو ته اړ سوي دي. اکثرو پطلونونه اغوستي او ايرانی لهجه کوي. په سرويس کي د ډېروالی په سبب ځيني د بس په لاره کي ناست دي. هغوی د موټروان او کلېنر سره جنجال کوي. ښه سلوک او بهتره سروېس غواړي. د ايران او افغان له حکومتونو څخه سرټکوي. د افغانستان فقر او د ايران شمنتي او دولت سره پرتله کوي. مقايسه يې دقيقه او عملي ده. د کابل-کندهار- هرات د لويي لاري په ټولو کثيفو او خواګرځنو رستورانونو کي همدا در به دره افغان ځوانان کوټه کوټه ناست وه. ځينو ډوډۍ خوړله. ځينو استراحت کاوه. او ځيني نور بيا په چورتونو او فکرونو کي ډوب وه.

د سړک په اوږدو کي، دلته او هلته، افغاني پوليس په بد شکله او بدرنګه جامو او پوستو کي پراته وه. د پوستو په شاوخوا کي د کوک، فانتا، اوبو، او نور شيانو په خاورو او ريګو لړلي بوتلونه، پلاستيکي مرداري کڅوړي، او اغزن سيمونه خرې خرې پراته وه. د پوليسو په څېرو کي، د قحطی، مفلسی، او سويي تغذيی نښي نښاني له ورايه ځرګندي وي. پوليسو به عموما مولونه وهلي وه؛ ځيلی به يې په پينو وي؛ وربښتان او مخونه به يې په دوړو او خاورو کي پټ وه؛ سترګي به يې سرې وې؛ خو البته توپکان به هم ورسره وه. د سرويسونو د رارسېدو سره سم، له خپلو پوستو او خزو څخه د سړک غاړي ته را ډانګي، او له هر سرويس او موټرڅخه معين او ټاکلی رشوت اخلي. چني، ناندرې، او نارې وهي. جنګ، تهديد، او ښکنځل کوي. د دولت او د قانون د حاکميت تر سيوري لاندي په سپينه ورځ غلا او ډاکه اچوي.

په همدې سيمه کي د ژړۍ او ميوند ولسوالی پرتي دي. د شمال پلو ته څېرمه د خاکريز ناکراره سيمه پرته ده. جنوب ته يې د پنجوايي نا امنه سيمه غزېدلې ده. همدلته، د کجکي د بند څخه را غزېدلي د برق غټې خادې ماتي او بېکاره ولاړې دي. که څه هم، د کابل-کندهار- هرات پر لويه لاره باندي په ځينو ځايونو کي د خارجي قواوو پوستی پرتي دي، خو پدې سيمه کي نه د خارجي قواوو پوسته سته او نه هم د افغان ملي اردو. هغوی ډامبر او امني لاري څاري! عجبه دا ده چي تر ګرشګ وروسته بيا تر هرات پوري لاره ډامبر او پخه ده. مګر د کندهار-ګرشک لاره خامه او ډبي ډبي ده. سرعت ښخي کم وي. د مسافرو د تبنتول اسانه وي. د کابل- کندهار- هرات د لويي لاري د امنيت خرابېدل د افغان ولس پر بېشمارو ستونزو باندي يوه بله شريره ستونزه هم ور اضافه کړه. په همدې سيمه کي، تل جنګ وي. د کال ۲۰۰۷ د مي په مياشت کي همدلته پر له پسي بمباری جاري وې. د امريکا په قيادت د بين المللي ايتلاف جنګي طيارې د کندهار- هرات د لويي لاري پر سر تېرېدې او د سړک په شمال کي يې خپل ړانده او عبث بمبونه اچول. له کندهار څخه تر ګرشګ پوري ټوله لاره ښايي سل او يا يو نيم سل ميله وي. دېرش کاله پخوا، همدآ فاصله په دوو ساعتو کي ټنده، ارام، او په امن او امان کي وهل کېده. مګر نن سبا همدا مهمه لاره تر اوسه پوري خامه او خرابه ده. نا امنه او خوني ده. په افغانستان کي، د امريکا د ناکامي ستراتيژۍ ښه مثال د همدې لنډي لاري ناامني او وحشت دی. دلته د ميوند د شهيدانو تر څنګ طالبان په سپينه ورځ جنايت او قتل کوي. پردېس، غريب، او بې وزلي وژني. له ټولو اسلامي، مدني، او افغاني اصولو څخه سرغړونه کوي. هيڅ اخلاقي اصل او پرنسيپ نه مني. يو وچ خرتوب او سپېرې سرټمبه ګی ته ادامه ورکوي.

پدې دېرشو کالو کي، د افغانستان په مختلفو سيمو کي څو ځله قتل عامونه سويدي. ددې راز ډله ايزو وژنو زياتېدل د افغاني ټولني د يووالي او ملي هويت اډاني سستوي. ملي اتحاد او همکاري ته صدمه رسوي. د افغان ملت د مختلفو پرګنو تر مينځ دښمني، بې اعتباري، او فاصله ايجادوي. افغان ولس له دننه کمزوری کوي. کورني اختلافات او تضادونه لا زياتوي. په شمال کي، څو ځله د متخاصمو ډلو تر مينځ ايتنکي او قومي قتل عامونه سويدي. د افشار قساوت، دکابل قتلونه، د دشت ليلي وحشت، د هسکي مېني وژنی، د شنديډ قتل عام، او نن ورځ د ميوند قتل عام او داسي نوري ډله ايزي وژني پدې تېرو کلونوکي بار بار تکراري سوي دي.

په پښتني سيمو کي د مذهبي افراطيت ډېرېدل د دغه قوم ژوند او پاېښت د جدي خطرونو سره مخامخ کړی دی. دېرش کاله کېږي چي پدې سيمه کي د مذهبي افراطيانو پله ډېره درنه سوېده. هغوی ګستاخه سويدي. پوره درې لسيزي کېږي چي د پردو په لمسون مذهبي افراطيت د پښتنو په سيمو کي ځالي جوړي کړي دي. پراخي سيمي يې تر خپلې ولکي لا ندي کړي دي. په سيمه کي يې ډار او وحشت خور کړی دی. دلته يې د خارجي مذهبي افراطيانو او ترورېستانو لپاره


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اډې جوړي کړي دي. په پښتني سيمه کي د مذهبي انارشستانو او ډانگيانو ډېرېدل د پښتون قام راتلونکي او شتون د جدي خطرونو سره مخامخ کړي دي. او په بل عبارت، په پښتني سيمو کي يې د غم او شر تخم شندلی دی. د دغه مذهبي شرارت د نوغی ايستل او شنډول د ټولو منورو پښتنو دنده او مسوليت دی. موږ مجبوره او مکلفه يو چي دا د مرداري موږی له خپلو سيمو څخه وبا سو. بله هيڅ چاره نلرو. همدا پرابلم موږ د عصر او زمان تر ټولو مهم چلنج دی. زموږ د ټولني يو اساسي سياسي او اجتماعي مشکل دی. زموږ د ټولو بد بختيو يوه اساسي سرچينه ده. ددې سر چيني بندول پکار دي. د طالبانو او القاعده ستړول پکار دي.

د اسلامي نړۍ په ټولو اقوامو کي افغانان په هر لحاظ وروسته پاتي دي. د نورو قومونو په تناسب په پښتنو کي بې سوادي زياته ده. اقتصاد کمزوری دی. بنيادي اجتماعي او سياسي اصلاحات ندی عملي سوي. پدې تېرو څو کلونو کي، د عصري علومو او ساينس سره مخالفت او دښمني زياته سوېده. په خلکو کي خرافات او سپېره جهل ډېر سوی دی. په پښتني سيمو کي د مکتبونو سوځول يو عادت گرځېدلی دی. طالبان په ډاگه د مکتب او معلم مخالفت کوي. د علم او هنر سره دښمني کوي. د انسان ازادۍ، حق، حرمت ته هيڅ احترام نلري. د خپل متحجر او وروست فکري چوکاټ په څرخ کي اسير او بند دي. هغوی د يوې تللي او ورکي دنيا استازي دي. هغوی غواړي چي پدې سيمه کي د هر مثبت بدلون مخه ونيسي. پښتانه د تباهۍ کندي ته ور شوه کړي. افغانان د تمدن د کاروان څخه راوگرځوي. تباره او خپگان حاکم کړي. او بالاخره د رڼا او خوښۍ بېخ وباسي. افغانان مجبوره دي چي ځيني اساسي پوښتني يو ځل بيا مطرح کړي: ايا افغانان کولای سي چي په يويشتمي پيړۍ کي د طالبانو تر نظام لاندي ژوند وکړي؟ ايا کېدای سي چي له جهانه څخه ځانونه پټ او ورک کړو؟ ايا د تمدن له کاروان څخه پاته کېدل زموږ په خير دي؟ موږ څه غواړو؟ کوم ځای ته رسېدل غواړو؟ والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de